پوهاند دکتوراسرارالحی منیب      او      پوهنمل احسان الله ناصح
اسلامي تعلیماتو څانگه، شرعیاتو پوهنځی، ننگرهار پوهنتون
تقریظ ورکوونکي: پوهاند دکتور دل اقا وقار او پوهاند سید محبوب شاه هاشمي

# په اسلام کې د اوبو ارزښت

**لنډیز**

په اسلامي شریعت کې داوبو ارزښت ته ځانگړې پاملرنه شوی دبیلگې په توگه:

اوبه د ژوندانه له ډیرو مهمو عناصرو څخه شمیرل کیږي چې د ځمکې په مخ ټول ژوندي موجودات ورته اړتیا لري،په اسلامي شریعت کې د اوبو اهمیت بیانول او گټه ترې اخیستل په دې توگه شوي چې د انسان او ټولو ژوندیو موجوداتو د منځته راتگ د اصلي سرچینې په توگه یادې شوي دي، د اوبو څخه گټه اخیستل او د هغې ساتنه کول هغه څه دي چې اسلامي شریعت یې مونږ ته په اړه کلکې سپارښتنې کړې دي.

د اوبو د زیرمو او ډیمونو برابرولو په واسطه الله جل جلاله خپل مخلوق ته ښښنه کوي، له امراضو یې ژغوري او د قیامت په ورځ ورته ښښنه کوي.که ممکن وي حیواناتو، مرغانواو نورو ځناورو لپاره د هغوی د تگ راتگ په ځایونو کې د اوبو زیرمې جوړول،د اوبو تلویث او چټلول په ځمکه کې د فساد په معنی سره دی، داسلام مبارک دین له دې ډول کړنو په کلکه منع کړې ده، او حکم کوي، چې هر انسان باید د اوبو له چټلولو ځان وساتي.په هغو ځایونو کې باید د کثافاتو له ښخولو او اچولو ډډه وشي چې د وخت په تیرېدو سره د اوبو زیرمو ته لار پیدا کوي او د اوبو د بندېدو یا خرابیدو ویره پکې وي.

**کلیدي کلمات** : اسلام ، قرآن ، اوبه ، انسان ، ژوند ، پاکوالی.

**سریزه**

اوبه دژوندیو ژوو دپایښت او دژوندي پاتې کېدو بنسټ بلل کېږي، چې له انسانانو پرته حیوانات، نباتات، حشرات او...هم نه شي کولی خپلې چارې او ژوند له اوبو پرته سرته ورسوي، تردې پرته په عبادتي اړخ کې دپاکوالې په برخه کې هم ستر نقش لري، چې دفقهاوو په کتابونو کې پرې بحثونه په نظر کې نیول شوي دي.

له اوبوڅخه دخپل ارزښت له مخې په قرآن کريم کې په مختلفو تعبيرونو سره (٦٣) ځلې يادونه شوې ده، داچې داوبو خالق يوازي الله جل جلا له دې ، يوازينې مخلوق دې،چې د (غاز، مايع او جامد) په درې ګونو حالاتو کې موندل کيږي.

نو داچې په دنيوي او اخروي ژوند کې اوبه ډير مهم او اساسي رول لوبوي په دې مقاله کې به د اسلامي شريعت له نظره د اوبو په اهميت باندې رڼا اچوي.

**د څيړنې اهميت :**

د څيړنې اهميت په لاندې ټکو کې واضح کيږي

١- د اسلامي شريعت په رڼا کې د اوبو اړونده ارتفاق د حقوقو،احکامواو اوبو د تنظيم په اړه د فقهاوو د څيړنو واضح کول .

٢- دتفسير، حديث، او فقهې په کتابونو کې د اوبو اړونده د متشتتو( خورو ورو) او بيلابيلو موضوعاتو راټولول او واضح قول ورڅخه په نښه کول.

٣- په يوه لنډه څيړنيزه علمي مقاله کې د اوبو اړوند د ارتفاق د حقوقو اونورو اړونده مسائلو پيژندنه .

**دڅيړنې ستونزه :** د اوبو اړونده ارتفاق د حقوقو نه پيژندل او د خلکو ترمنځ د اوبو په ويش د جنجالونو رامنځته کيدل.

**مخکېنيوڅيړنوته کتنه**: په پښتو ملي ژبه مو د موضوع اړونده کومه علمي ليکنه په نظررانغله، البته په دې هکله دعزام تيسرريحان (حقوق الارتفاق واحکامه فی الفقه الاسلامي ) ترعنوان لاندې د ماسټرۍ رساله شتون لري، چې ديوه پلوه د چاپ په ګاڼه نده سمبال شوی او له بل زمونږ د هيوادوالو د استفادې وړنده.

## اوبه د هر ژوندي موجود د بنسټ په توګه

اوبو ته په عربي ژبه کې ( ماء) وايي چې د لغوي ريښې له مخې دپسوند په صورت کې مختلفې معناګانې لري او په مطلقه توګه داسې يوه بهيدونکی ماده ده،چې خوند ، رنګ او بوی نه لري او په اصطلاح کې اوبه له هغې رنې، بهيدونکې، طبعي مادي څخه عبارت دي چې د اکسيجن او هايدروجن دوه عنصرونو له ترکيب څخه منځ ته راغلي دي.([1])

[1] - أحمد مختار عبد الحميد عمراو نور ملګري،(٢٠٠٨م)، معجم اللغة العربية المعاصرة،خپرندوی: عالم الکتب،ج٣، ص٢١٤١

اوبه د ټولو ښیګڼو مور بلل کیږي په دې معنی چې په ځمکه کې د خوځیدونکو موجوداتو د ژوندانه بنسټ همدا اوبه دي که اوبه نه وي نو ژوند، کرهڼه ، تعمیرات، مصنوعات او عبادات به یو هم نه وو، دا هغه حقیقت دی چې هر انسان منلی او غاړه یې ورته ایښې ده.

د انسان او ټولو ژوندیو موجوداتو په ژوند کې اوبه د خورا ارزښت او اهمیت درلودونکي او د دوی د پیدا کیدو او ژوندي پاتې کیدو لپاره بنسټیزه ماده بلل شوې ده.

الله جل جلاله په خپل مبارک کتاب کې فرمایي (**وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ (30)**)([2])

ژباړه: او مونږ له اوبو څخه هر ژوندی موجود پیدا کړی دی؟آیا (بیا هم) دوی ایمان نه راوړي.

په بل ځای کې الله عزوجل فرمایلي چې: **وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَابَّةٍ مِنْ مَاءٍ** ([3]) او الله جل جلاله (په ځمکه)هر خوځیدونکی موجود له اوبو څخه پیدا کړی دی.

په دې مبارکو ایاتونو کې اوبه د خپل اهمیت له مخې د ژوندیو موجوداتو د جوړښت او منځ ته راتګ اصلي سرچینه بلل شوې ده، د اوبو څخه د ژوندیو موجوداتو د پیدایښت په اړه علماء وایي: د اوبو څخه د ژوندیو موجوداتو پیدا کیدل یو منل شوی حقیقت دی ځینې ژوندي موجودات مستقیماً د رطوباتو څخه متولد شوي دي لکه ځینې چینجي او ځینې حشرات او یا ترې په غیر مستقیمه توګه صورت نیسي لکه د انسان په شمول تناسلي حیوانات، چې له نطفې څخه را منځ ته کیږي؛خو نطفه له هغو خوراکي توکواو غذاګانو جوړښت مومي چې د اوبو په ذریعه پیدا کېږي او نمو کوي. همدې اصل ته په کتو سره به لاندې اشکالات او وهمونه هم له منځه ولاړ شي او دپوهیدا لارې چارې به یې اسانې شي:

لمړی: عیسی علیه السلام که څه هم له نطفې څخه نه دی پیدا شوی مګر د رحم له رطوبت څخه خوندي نه دی پاتی شوی.

دوه یم : ادم علیه السلام اصلاً له خاورې څخه پیدا کړی شوی دی، مګر خاوره په اوبو باندې اغږل شوې ده، نو په دې اعتبار سره دوی دواړه هم له اوبو څخه پیدا شوي بلل کیږي([4])

---

[2] : الانبیاء: ٣٠

[3] : النور : 45

[4] : محمد الأمين بن محمد المختار بن عبد القادر الجكني الشنقيطي، أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن، خپرندوی: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع بيروت – لبنان، ج 4 ص 615.

؛ خو د تفسیر مظهري مصنف بیا وایي: له اوبو څخه همدغه پېژندل شوي اوبه مطلب دي، او له اوبو څخه د ژوندیو موجوداتو د خلق کولو معنی داده چې دوی ورته ډیره زیاته اړتیا لري، ته به وایي چې دوی بالکل له اوبو څخه جوړ شوي دي[5]

## د اوبه ولو او د او اوبو زیرمه کولو فضیلت او اهمیت:

تنده څپلو انسانانو ، حیواناتو او نباتاتو ته اوبه ورکول او د اوبو ورکولو زمینه ورته برابرول د اسلام په مبارک دین کې داسې لوی او عظیم عمل دی چې په سبب یې ددغه مسلمان گناهونه رژیږي، مرضونه یې رغیږي او تل پاتې صدقه ورته حسابیږي.

د اوبو ذخیرې او زیرمې جوړول په اسلامي شریعت کې بهترین خیرات او تر ټولو غوره صدقه ده، سعد بن عبادة رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی ورته یې وویل: د الله رسوله ! مور مې مړه شوې ده ایا په هغې پسې صدقه وکړم؟ هغه(صلی الله علیه وسلم ) ورته وفرمایل هو! سعد ورته وویل: ښه نو کومه صدقه ډیره بهتره ده؟(چې هغې ته یې زیات ثواب ورسیږي).رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وویل: د اوبو ورکول(6).

بیا نو سعد رضی الله عنه یو کوهي وکیندلو او ویې ویل: چې ددې ثواب د سعد د مور لپاره دي.

امام قرطبي رحمه الله وایي: " ددې حدیث نه دا معلومه شوه چې خلکو ته د اوبو زمینه او اسانتیاوې برابرول د الله جل جلاله په وړاندې تر ټولو غوره صدقه ده" (7).

د اوبو اسانتیاوې برابرول د مرضونو د مخنیوي او علاج سبب کیږي، په کور کې د برکت پیدا کیدو او د ناوړه پیښو څخه د کورونو د ساتنې سبب دی، نو باید هر مسلمان په مسجد، لاره ، موټر، ښار او نورو عامه ځایونو کې د اوبو ورکولو سهولتونه چمتو کړي، د حدیثو مشهور امام حاکم رحمه الله وایي:" زما په مخ کې یو زخم راپیدا شو چې هیڅ نه رغیده، نو د کور په مخکې مې خلکو ته د ابو

[5] : محمد ثناء الله پاني پتي المظهري، التفسیر المظهري، چاپ ځای: مکتبة الرشدیة – الباکستان، چاپ کال : ۱۴۱۲ ه ق، ج ٦ ص ۱۹۴.

[6] : أبو داود سلیمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشیر بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني، سنن أبي داود، الناشر: دار الرسالة العالمیة ج 3 ص 108.شعیب الأرناووط رحمه الله وایي چې: ددې حدیث په سند کې ضعف دی، ځکه یو سړی پکې مبهم دی، خو نور ټول راویان یې ثقه دي.

[7] : أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بکر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدین القرطبي، الجامع لأحکام القرآن، دار عالم الکتب، الریاض، المملکة العربیة السعودي،ج ۷ ص ۲۱۵.

ښځلو لپاره یو لوښی کېښود، او خلکو به ترې اوبه څښلې، یوه اونۍ لا نه وه تیره شوې چې مخ مې ښه شو او تر پخوا ډېر ښایسته ښکارېدو".(8)

په همدې توګه ابن الشقیق وایي: " عبدالله بن المبارک ته یو کس راغی په پښه کې یې زخم وو هغه ورته وویل: اووه کاله کیږي چې زما په زنګون کې زخم دی او وینه ترې بهیږي، ډېرو ډاکټرانو ته ولاړم خو هیڅ نتیجه یې نه ده ورکړې، عبدالله بن المبارک رحمه الله ورته وویل: لاړ شه په داسې ځای کې یو کوهي وکاږه چې خلک یې اوبو ته اړتیا ولري، کله چې نوموړي مریض یاده چاره ترسره کړه، الله جل جلاله ددې کار په ترسره کولو سره ورغاوه" (9)

## د اوبو ورکول د ښښنې سبب کیږي

د اوبو زیرمې برابرول او انسانانو، حیواناتو او نباتاتو ته د اوبو ورکول دالله جل جلاله په وړاندې هغه لوی او ستر عمل دی چې په سبب یې د رحمن جل جلاله رحم په خوځښت راولي او ددې کړنې ترسره کوونکی شخص د ښښنې وړ ګرځوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "هر مسلمان چې بل مسلمان ته د تندې په وخت کې اوبه ورکړې؛ الله جل جلاله به یې د قیامت په ورځ د مهر شویو شرابو څخه خړوب کړي" (10)

له یو شمیر تابعینو څخه رانقل شوي دي دوی فرمایلي: که د چا ګناهونه زیات وي نو د ښښنې وسیله یې داده چې خلکو ته د اوبو ورکولو زمینه برابره کړي(11)

حیواناتو ته د اوبو ورکولو د فضیلت او ارزښت په اړه په صحیحینو کې راغلی روایت ډېر زیات د حیرانتیا او خوشالۍ ښوونکی دی، او هغه داچې یوې زناکارې ښځې ته لدې امله ښښنه وشوه، چې هغې یو تږي سپي ته اوبه ورکړې وې، رسول الله علیه وسلم فرمایي : د یوه کوهي په غاړه یو سپی د تندې له امله تاوېدو را تاوېدو نږدې وه چې تنده یې ووژني، په دې وخت د بني اسرائیلو یوه زناکاره

[8] : عبد العظيم بن عبد القوي بن عبد الله، أبو محمد، زكي الدين المنذري (المتوفى: 656هـ)، الترغيب والترهيب من الحديث الشريف، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، ج 2 ص 43.

[9] : أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى البيهقي، شعب الإيمان، الناشر: مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض،لومړی چاپ ، 1423 هـ - 2003 م ، ج٥ ص ٦٩.

[10] : محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي،سنن الترمذي ،الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت، د چاپ کال: 1998 م ٢٤٤٩.امام الباني د ترمذي په تعلیق کې یاد حدیث ضعیف بللی دی.

[11] : قرطبي : ج ٧ ص ١٥.

ښځه راغله او هغه ته يې په خپله پڼه(موزه) کې له کوهي څخه اوبه راوويستلې او د هغه تنده يې پرې ختمه کړه؛ نو الله جل جلاله ورته د همدې عمل په سبب ښښنه وکړه([12])

## د اوبو په استعمال کې دقت او احتياط:

د اسلام مبارک دين د ژوندانه په ټولو اړخونو کې خپلو پيروانو ته اصول او قواعد وضع کړي دي، تر دې چې د اوبو د استعمال په اړه يې هم ورته خورا واضحه کړنلاره بيان کړې ده، له همدې کبله هر مسلمان ته پکار ده چې د اوبو د استعمال په اړه پوره زيرک واوسي ځکه په نړۍ کې د اوبو سرچينې محدودې او ډيرې کمې دي، مونږ ګورو چې همدا اوس په يوشمير هيوادونو کې د يو ليتر تيلو او يو ليتر اوبو قيمت سره برابر دی، او د ساينس پوهانو وړاندوينې داسې دي چې په راتلونکو کلونو کې به د اوبو اندازه په ځمکه کې کميږي، همدې اصولو ته پام سره زمونږ لارښود رسول صلى الله عليه وسلم مونږ ته د اوبو د استعمال اندازه راښودلې ده، سفينه رضی الله عنه وايي چې:رسول الله صلى الله عليه وسلم به د جنابت له امله په يوه صاع( 2600) ګرامه يا (۲۴۳۰) ملي ليتره اوبو غسل کاوه او په يوه مُد ( ٦٥٠) ګرامه يا (٦٠٧,٥ ) ملي ليتره به يې اودس کاوه(13).

پورتنی حديث په خورا واضح ډول مونږ ته د اوبو د استعمال طرز او طريقه راښيي چې له اړتيا زياتې اوبه بايد استعمال نه شي، يوه ورځ سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه اودس کاوه رسول الله صلى الله عليه وسلم وليده چې زياتې اوبه يې مصرفولې نو ورته يې وفرمايل: ولې اسراف کوې؟!! هغه ورته وويل: د الله رسوله! آيا د اوبو په استعمال کې هم اسراف شته؟ هغه(صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمايل:هو بالکل اګر که د يوې روانې ويالې په غاړه هم ناست وې.(14)

## د اوبو پاکوالي ته پاملرنه:

نظافت او پاکوالي د اسلام په مبارک دين کې نيمايي ايمان بلل شوی دی، ناپاکي او نجاست د امراضو بنسټ تشکيلوي، په ټوليز ډول اسلام د هرشي پاکوالي باندې ټينګار کړی دی چې په همدې سلسله کې يې د اوبو پر پاک ساتلو هم تأکيد کړی، په دې اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:(**لاَ يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي المَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لاَ يَجْرِي، ثم يغتسل فيه**)([15])

[12] : محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، صحيح البخاري، الناشر: دار طوق النجاة،ج 4 ص 173.

[13] : أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (المتوفى: 273هـ)، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، خپرندوی: دار الرسالة العالمية، چاپ وار: 1430 هـ - 2009 م. ج ۱ ص ۱۷۹.

[14] : ابن ماجه، ج 1 ص 272.

[15] : صحيح البخاري ج1 ص 239.

ژباړه:ستاسې يو کس دې په هغو اوبو کې چې ولاړې وي او جاري نه وي، تشې متيازې دې نه کوي ،چې بيا په هغې کې غسل کوي.

په ولاړو پليتو اوبو کې غسل کول يا ترې نوره ګټه اخيستنه د بيلابيلو مهلکو امراضو د راپيدا کيدو سبب کيږي لکه کولرا، د پوستکي ناروغۍ او ...

په همدې توګه په يوه بل حديث کې راځي چې په روانو اوبو کې به هم څوک بولې(تشې متيازې) نه کوي: په دې اړه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: لا يبال في الماء الجاري(16) يعنې په روانو اوبو کې به څوک متيازې نه کوي.

نو د چاپيريال ساتنې له اړخه په اوبو کې له متيازو کولو نه منع په حقيقت کې د طب هغې برخې ته پاملرنه ده چې په کې ويل کيږي(وقايه تر علاج بهتره ده) .

هغه څوک چې له خوب نه رابيدار شي، له دې څخه منع شوى دى چې په يوه لوښي کې لاس دننه کړي تر څو چې يې لاسونه پرېمينځلي نه وي، ددې لپاره چې ذخيره شوې اوبه چټلې او يا پليتې نه شي .

په ځمکه باندې فساد کول په اسلامي شريعت کې سخت منع شوى عمل دى، چې د اوبو ککړتيا او خرابوالى هم يو ډول فساد دى ؛ نو بناءً د اوبو ذخيرو ته تاوان رسول او بې ځايه استعمال يې د ممنوعه فساد تر قاعدې لاندې راځي.

**داوبود ملکيت، خړوبولواو ګټې اخېستلو احکام:**

ددې سرليک لاندې اوبو اړونده ارتفاق حقوق څيړل شوي دي چې په لاندې توګه ورڅخه يادونه کوو:

ارتفاق په لغت کې ګټې اخېستلو، د بل شي په واسطه منفعت او کومک ترلاسه کول په څنګل تکيه کېدوته وايې(17).

[16] : سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني، المعجم الأوسط،خپرونکى: دار الحرمين – القاهرة،ج ٢ ص ٢٠٨.

17 : ابن منظور، لسان العرب درفق ماده ١١٨/١٠

او په اصطلاح کې دځمکې اړونده منافعو او ګټولاس ته راوړلو ته وایې لکه دځمکې خړوبول ، د اضافه اوبو ایستلو حقوق او داسې نور. (18).

**د اوبو اړوند د ارتفاق د حقوقو وېش**

**د اوبو اړوند د ارتفاق څلور حقوق دي:**

١- د اوبولو(خړوبولو) حق، په عربي ژبه کې ورته حق الشرب وايي، يعنى د ځمکې د خړوبولو لپاره د اوبو نوبت او وخت ټاکل.(19) چې قران کریم ورته داسې اشاره کړېده: قَالَ هَٰذِهِ نَاقَةٌ لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ.

ژباړه: هغه(صالح علیه السلام وویل) دا اوښه (زما د نبوت د اثبات معجزه) ده، ددې لپاره د اوبو څښلو او ستاسې لپاره د اوبو څښلو لپاره د معلومې ورځې نوبت دی.

په ذکر شوي ایت کې د صالح علیه السلام د اوښې چې د معجزې په توګه الله جل جلاله رالیږلې وه ، او د هغه قوم د اوبو نوبت ته اشاره ده. چې په محمدي صلی الله علیه وسلم شریعت کې ورڅخه منع نه ده راغلې.

د انسانانو او حیواناتو لپاره د اوبو څښلو او د ژوندانه د ضرورتونو د پوره کولو حق(20) چې د فقهې په کتابونو کې ترې په (الشفة) سره تعبیر کیږي. (21) او څلورو ډولونوته ویشل کېږي.

الف: هغه اوبه چې په ځانګړو لوښو لکه لوښی ، چاټی ، حوضونه ، او په ښارونو کې کوورنو ته د اوبو رسولو ځانګړي سیستمونه ساتل کېږي.(22) چې ددې ډول اوبو په هکله علماوو دوو موضوعاتو ته اشاره کړې ده.

**لومړی موضوع (مسئله): ايا ددې ډول اوبو تملیک صحیح دی؟**

ځواب: د احنافو، مالکیانو،د شافعیانو صحیح مذهب او د حنبلیانو په نزد یې ملکیت دمالک پورې تړاو لري او بل څوک پکې تصرف نه شي کولی. په دې هکله علامه کاساني په خپل مشهور

---

18 : زین الدین ابن ابراهیم ابن محمد چې په ابن نجیم مصري حنفي سره شهرت لري، (١۴١٨ق) البحرالرائق شرح کنزالدقایق ، څېړونکی زکریا عمیرات ،څېړونکی محمدعلي بیضوي دارالمکتبه العلمیه بیروت ٢٢٨/٦

19 . ابن نجیم ، البحرالرائق ٣٩١/١۵

20 . قران کریم سورت الشعراء ۵۵ ایت

21 . على حیدر دارالاحکام ، ماده ١٢٦٣ ، ٣/ ٣٦٩

22 . الزحیلي الفقة الاسلامی وادلته ۵/ ۵٩٣

تاليف (البدائع ) لیکلي دي : په ټولوښارونو کې پرته د کوم انکار څخه ددې ډول اوبو ذخیره کول او په ملکیت کې راوستل د خلکو عرف او عادت ګرځېدلی، او هیڅوک نه شي کولی چې د مالک له خوښې او رضا پرته د څښلو یا اودس کولو لپاره وکاروي، خو که د مالک څخه یې اضافه وي او بل شخص ورته سخت ضرورت وي نو بیا یې ورته د اجازې پرته هم استعمالول روا دي.(23)

**دویمه موضوع (مسئله) ایا ددې ډول اوبو خرڅول روا دي؟**

کله چې یادې اوبه د شخص ملکیت ګڼل کیږي نو د جمهورو فقهاووپه نزدیې خرڅول هم روا دي او په کومو روایتونو کې چې د اوبو له خرڅولو منع راغلې ده یا خو په عموم دلالت کوي او یا هغه اوبه دې چې له حاجت څخه اضافه دي او یا د شخص ملکیت نه دي ، چې همدا د عرف او عادت سره هم سمون لري (24)

ب: دویم ډول د چینو، کوهیانو او حوضونو اوبه دي . دا هغه اوبه دي چې یو څوک یې د خپل ځان لپاره راوباسي.(25) پدې هکله د احنافو، حنابلوو، ځینې شافعیانواو زیدیه و نظر دادی چې دا ډول اوبه د اباحت اصل ته په کتو سره په ملکیت کې نه راځي ځکه چې د اوبو په خلقت کې هم اباحت اصل دی (26) لکه چې رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: الناس شرکاء فی ثلاث :الماء ،الکلاء ، والنار.(27).

ژباړه: خلک په دریو شیانو کې سره شریک دي : اوبه، واښه او اور.

خو که په مملوکه ځمکه کې وي د امام مالک رحمه الله په نزد یې په ملکیت کې راوستل صحیح دي. (28)

ج: دریم ډول د شخصي ویالو اوبه دي . دا دویالو هغه اوبه دي چې د ځنې خلکو ملکیت وي. حکم یې دا دی چې دا د همدوي پورې خاص دي او بل څوک پکې تصرف نه شي کولی. (29)

---

[23] . موفق الدین ابن قدامه ، المغنی ۲۰۱/۴ – او السمرقندي ، تحفة الفقهاء ۴۰۶/۲

[24] . ابن حزم المحلی ۶/۹-۷ ابن رشد بدایة المجتهد ۱۳۵/۲

[25] . الزحیلی ، الفقه الاسلامی ۵۹۴/۵

[26] . الکاساني ، بدائع الصنائع ۱۰۸/۶ ، المغني ۲۰۰/۴

[27] . الحارث ابن ابی اسامه او حافظ نورالدین ، بغیة الباحث عن زوائد مسند الحارث تحقیق حسین الباکری، ناشر مرکزخدمة السنة والسیرة النبویه ، المدینة المنورة ۵۰۸/۱ رقم ۴۴۹

[28] . ابن رشد، بدائة المجتهد ۱۳۴/۲

[29] . الزحیلی ، الفقه الاسلامي ۵۹۵/۵

د: څلورم ډول د عامو ویالو(لختو) اوبه دي . داهغه اوبه دي چې  په عامو ویالوکې بهیږي، د شخص ملکیت دشخص ملکیت نه دی او د عامو وګړو پورې تړواو ولري. لکه د نیل ، دجلې او فرات او نورو لویو ویالو اوبه چې د بحرونو او سیندونو اوبه هم ورته شاملیږي (30) ددې ډول اوبو حکم دا دې چې دا دهیچا په ملکیت کې نه راځي مګر داچې په لوښو او یا نورو وسایلو کې ذخیره شوی دی .([31]).

څرګنده شوه چې د عامو ویالو څخه هر چاته د اوبو او شفع حق ثابت دی، کولی شي چې واړه واړه لختي ورڅخه تیر کړي اوپه خپل ملکیت کې یې راوړي خو داهم باید په پام کې ونیسو چې د اولیت او لومړیتوب حق هغه چاته ورکول کیږي چې په لاس نه راوړلو کې یې وړاندی والی کړی وي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: من سبق الی من لم یسبقه الیه مسلم فهو به([32]).

څوک چې هغه حق ته تر ټولو وړاندې شو چې بل مسلمان نه وي ورمخکې شوی، نو دا د همده حق دی.

**۳- د مجری حق**: یعنی عقار ته د اړتیا په صورت کې د خپلې ، مشترکې او یا بل چا په ځمکه کې د اوبو راوستل دي.(33)

اوس پوښتنه داده چې ایا د بل چا په ځمکه او یا ویاله کې اوبه راوستل روا دي او که نه ؟

ځواب: که چاځمکه د اوبو سرچینواو یا ویالوسره وصل نه وي او غواړي چې دبل له ملکیت څخه استفاده وکړي په دې هکله د فقهاوو نظرونه دي :

لمړی نظر: احناف، د امام شافعي جدیدمعتمدقول ، امام مالک په یو روایت کې ، حنابله ، ابن حزم ظاهری او زیدیه وایې: دبل چا په ځمکه کې د اوبو راوستل که ضرورت په اساس هم دهغه له خوښې او رضا پرته روا نه دي ، دوي په عموم کې په ټولو هغو حدیثونو استدلال کوي چې د بل چا د مال په حرمت دلالت کوي ، د بېلګې په توګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

[30] . مخکنی مرجع او ابن الهمام ، فتح القدیر ۱۰/ ۸۰

[31] : المغنی ۲۰۱/۴

[32] : السنن الکبری، کتاب احیاءالموات باب من احیاء ارض... ۱۴۲/٦ رقم ۱۱۵۵۹

[33] .محمدابوزهره ،الملکیه ونظریة العقدخ الشریعة الاسلامیة ص ۹۵ . دارالفکر العربی – او – الفقة الاسلامی وادلته ٦۰۴/۵

لایحل مال امرئ مسلم الا عن طیب نفس (34).

ژباړه : د مسلمان مال د هغه له خوښې پرته خوړل جایز نه دي.

همدارنه دوي وایې: دا د بل چا په ملکیت کې دهغه له اجازې پرته تصرف کول دي ، نو څرنګه چې د پل چا په ځمکه کې فصل او کښت کرلی او دبل چا له سورلۍ څخه د هغه د اجازې پرته استفاده کول روا نه دي، داچاره هم روا نده. (35)

دویم نظر: د امام شافعي لومړی قو اود امام مالک او حنابلوو یو روایت داسې دی چې د ضرورت په وخت کې د ضرر د نه رسولو به مراعت کولو سره داسې کول روا دي . دوي نبی علیه السلام په دې وینا استدلال کوي : یو ګاونډی دې د بل ګاوندې لرګې له خپل دیوال څخه نه بندوي.(36)

زما په آند په دې هکله دې عرف ته ترجیح ورکول شي او دځمکې د مالک اجازه ،رضا او هغه ته ضرر رسول دې په پام کې ونیول شي، ځکه اوس مهال د دیانت او تقوا دکموالي له کبله مطلقه اجازه د ځمکې د خاوند په نقصان تمامیږي، تردې چې دغصب احتمال هم پکې شته.

۴- د مسیل (اوبوویستلو حق) د بل چا په ځمکه کې دعامه لګښتونو په نظر کې نیولو سره دخپلې ځمکې څخه د اضافه اوبو ویستلو ته د (مسیل) حق وایې. (37)

**پایله**

داسې یوه بهیدونکی ماده ده،چې خوند ، رنګ او بوی نه لري او په اصطلاح کې اوبه له هغې رنې، بهیدونکې، طبعي مادي څخه عبارت دي چې د اکسیجن او هایدروجن دوه عنصرونو له ترکیب څخه منځ ته راغلي دي.

د انسان او ټولو ژوندیو موجوداتو په ژوند کې اوبه د خورا ارزښت او اهمیت درلودونکي او د دوی د پیدا کیدو او ژوندي پاتې کیدو لپاره بنسټیزه ماده بلل شوې ده.

د اوبو ذخیرې او زیرمې جوړول په اسلامي شریعت کې بهترین خیرات او تر ټولو غوره صدقه ده، د اوبو اسانتیاوي برابرول د مرضونو د مخنیوي او علاج سبب کیږي، په کور کې د برکت پیدا کیدو او د ناوړه پیښو څخه د کورونو د ساتنې سبب دی، په ټولیز ډول اسلام د هرشي پاکوالي باندې ټینګار

---

34. الدارقطنی ، سنن الدارقطنی کتاب البیوع ۳/ ۲٦ رقم ۹۲

35. المغنی ۵/ ۳۰ – او- الشیرازي ، المهذب علی تکلمله المجموع ۴۰۳/۱۳

36. سبل السلام ٦۰/۳

37. الفقة الاسلامی اودلته ٦۰۵/۵

کړی دی چې په همدې سلسله کې يې د اوبو پر پاک ساتلو هم تأکید کړی، په ځمکه باندې فساد کول په اسلامي شریعت کې سخت منع شوی عمل دی، چې د اوبو ککړتیا او خرابوالی هم یو ډول فساد دی ؛ نو بناءً د اوبو ذخیرو ته تاوان رسول او بې ځایه استعمال یې د ممنوعه فساد تر قاعدې لاندې راځي.

هغه اوبه چې په ځانګړو لوښو لکه چاټې ، حوضونو ، او په ښارونو کې کوورنو ته د اوبو رسولو ځانګړي سیستمونو کې ساتل کېږي، دمالک پورې تړاو لري او بل څوک پکې تصرف نه شي کولی، کله چې يادې اوبه د شخص ملکیت ګڼل کیږي نو د جمهورو فقهاووپه نزدیې خرڅول هم روا دي او په کومو روایتونو کې چې د اوبو له خرڅولو منع راغلې ده یا خو په عموم دلالت کوي او یا هغه اوبه دي چې له حاجت څخه اضافه دي او یا د شخص ملکیت نه دي.

## وړاندیزونه

۱. علماء کرام باید ولسونه د منبرونو له لارې د اوبو په اهمیت، فضیلت او د استعمال په لارو چارو پوه کړي.

۲- دافغانستان داسلامي جمهوریت له مشر تابه اواړوند مسؤلینو غوښتنه کوو، چې دګران هیواد افغانستان سیندونه او داوبو زیرمې په سمه توګه مهار او دهیواد په ښېرازۍ او ابادۍ کې ترې کار واخیستل شي.

۳- (زمونږ اوبه زمونږ ابرو ده) شعار ته ریښتنې بڼه ورکړل شي او دعملي کولو لپاره يې په اړوندو وزارتونوکې وړ او اهل شخصیتونه وګمارل شي، او په اړه يې دپوهنتونونو له علمي کادرونو ګټه واخیستل شي.

## خلاصة المقال

## أهمية المياه في الإسلام

**دکتوراسرارالحی منیب**

استاذ و رئیس کلیة الشریعة ، جامعة ننجرهار- أفغانستان

**إحسان الله ناصح**

الأستاذ المساعد , كلية الشريعة, قسم التفسير , جامعة ننجرهار– أفغانستان

اهتم الشريعة الاسلامية لأهمية الماء اهتماما خاصا منها:

يُمَثِّل عنصر الماء أحد أهمِّ العناصر البيئية التي تحتاجها جميع الكائنات الحيَّة على وجه الأرض، وبدأ استثمار الماء في المنهج الإسلامي من مرحلة تعريف الإنسان بالأهمية البالغة لهذا العنصر الحيوي، وكيف خلق الله سبحانه وتعالى منه كلَّ دابَّةٍ، وكيف لا يستطيع أحد أن يجعله سهل التناول عذب المذاق إلَّا الله تبارك وتعالى، ثُمَّ أتى الفقه الإسلامي فاستمدَّ من الكتاب والسُنَّة قواعده وتفريعاته؛ ليضع الحدود بين الماء، ويُفَرِّق بين أنواعه وحالاته، فيضع بهذا حدودًا فاصلة بين استثمار الماء وبين إفساده؛ وتأسيسًا على هذا وردت التعاليم الإسلامية الموصية باستثمار وتنمية الموارد المائية.وقد ورد ذكر الماء في كتاب الله ثلاثًا وستين مرَّةً، ويستطيع الإنسان الحياة بدون طعام إلى مدَّة تبلغ الشهر، بينما لا يستطيع الحياة بدون الماء أكثر من أسبوع في الحدِّ الأقصى.قَدَّر الإسلام أهميَّة الماء بالنسبة لحياة البشر، وكانت رؤيته هذه للماء وأهميته مما ترتَّب عليه وضع القواعد والتعاليم والتشريعات لاستثماره وتنميته.

**الكلمات المفتاحية**: الإسلام, القران, الماء, الحياة, الطهارة.

**مأخذونه**

1. قرآن کريم
2. ابن منظور: محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (1414 هـ): لسان العرب،خپرندوی: دار صادر – بيروت:دربیم چاپ.
3. أحمد مختار عبد الحميد عمراو نور ملگري،(٢٠٠٨م)، معجم اللغة العربية المعاصرة،خپرندوی: عالم الكتب.

4. أفندي، علي حيدر خواجه أمين (1411هـ - 1991م)، درر الحكام في شرح مجلة الأحكام،خپرندوی: دار الجيل.

5. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي،(چاپ كال نه لري)، صحيح البخاري، الناشر: دار طوق النجاة،

6. البيهقي ،أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى البيهقي،( 2003 م) شعب الإيمان، الناشر: مكتبة الرشد للنشر والتوزيع بالرياض.

7. الترمذي،محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي،(1998 م )سنن الترمذي ،الناشر: دار الغرب الإسلامي – بيروت.

8. الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار(1424 هـ - 2004 م)،سنن الدارقطني، خپرندوی: مؤسسة الرسالة، بيروت – لبنان.

9. الزُّحَيْلِيّ، أ. د. وَهْبَة بن مصطفى (ب ت)، الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ، خپرندوی: دار الفكر - سوريَّة – دمشق.

10. السِّجِسْتاني ،أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني، (چاپ كال نه لري)، سنن أبي داود، الناشر: دار الرسالة العالمية

11. السمرقندي ، محمد بن أحمد بن أبي أحمد، أبو بكر علاء الدين (1414 هـ - 1994 م)، تحفة الفقهاء، خپرندوی: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

12. السيواسي، كمال الدين محمد بن عبد الواحد المعروف بابن الهمام(ب ت)، فتح القدير، خپرندوی: دار الفكر.

13. الشنقيطي، محمد الأمين بن محمد المختار بن عبد القادر الجكني الشنقيطي، ( چاپ كال نه لري)،أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن، خپرندوی: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع بيروت – لبنان.

14. الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف(ت ب)، المهذب في فقة الإمام الشافعي،خپرندوی: دار الكتب العلمية.

15. الصنعاني، محمد بن إسماعيل بن صلاح بن محمد الحسني(ت ب) ، سبل السلام، خپرندوی: دار الحديث.

16. الطبراني ، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم الطبراني،(چاپ كال نه لري)، المعجم الأوسط،خپرونكى: دار الحرمين – القاهرة

17. الظاهري ، علي بن أحمد بن سعيد بن حزم (ت ب)، المحلي، الناشر : دار الآفاق الجديدة- بيروت.

18. القرطبي ،أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي،( چاپ كال نه لري) الجامع لأحكام القرآن، دار عالم الكتب، الرياض، المملكة العربية السعودي.

19. القرطبي، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد الشهير بابن رشد الحفيد(1425هـ - 2004 م)، بداية المجتهد ونهاية المقتصد، خپرندوی: دار الحديث – القاهرة.

20. القزويني ،أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (2009 م)، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط، خپرندوی: دار الرسالة العالمية.

21. محمد ابوزهرة (ت ب)،الملكية و نظرية العقد في الشريعة الإسلامية، خپرندوی: دارالفكر العربي.

22. المصري ،زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم(1418ه ق) بحر الرائق شرح كنز الدقائق، خپرندوی: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان.

23. المظهري ،محمد ثناء الله پاني پتي المظهري،( ١۴١٢ ه ق) التفسير المظهري، چاپ خاى: مكتبة الرشدية – الباكستان.

24. المقدسي، موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي(1388هـ - 1968م)، المغني، خپرندوی: مكتبة القاهرة.

25. المنذري، عبد العظيم بن عبد القوي بن عبد الله، أبو محمد، زكي الدين المنذري (چاپ كال نه لري)، الترغيب والترهيب من الحديث الشريف، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت،

26. الهيثمي، نور الدين (1413 - 1992)، بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث، المحقق : د. حسين أحمد صالح الباكري، خپرندوی: مركز خدمة السنة والسيرة النبوية - المدينة المنورة.